


Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

# اتوکیډ (AUTOCAD)

د اتوکیډ سافټویر د انجینری د مسلک یو ډیر مهم پروګرام ده ، چی انجینران او ډیزاینران ورڅخه په پراخه توګه کار اخلی. ډیر کار په لږ وخت کی ترسره کوی. نوموړی پروګرام د اتوډیسک(Autodesk) امریکایی کمپنی لخوا خدمتونه وړاندی کول.

په لومړی سر کی په نظامی چارو کی کارول کیده ، وروسته بیا د ملکی خدمتونو لپاره د دسکټاپ په شکل د ګټی اخیستنی وړ وګرځیده.

د لومړی ځل لپاره په 1982م کال کی د اتوډیسک کمپنی لخوا رامنځته شو. په 2010م کال څخه وروسته د مبایل ، ویب پاڼو او نورو وسایلو په واسطه د نړی مارکیټ ته وړاندی شو.

دا سافټویر د انجینرانو ، معمارانو ، پروژی مدیرانو ، ډیزینرانو او په خاصه توګه د ګرافیک کارکوونکو لخوا په صنعت کی کارول کیږی.

د دوه پروګرامونو 2D او 3D درلودونکی ده.

2D « Two Dimension یعنی په دوه بعدونو X او Y کی کار کوی.

3D « Three dimension یعنی د دری بعدونو X, Y, Z درلودونکی ده ، چی دی سیستم ته UCS یا User coordinate system سیستم وایی.

په 2D پروګرام کی Plane , Section , Elevation , Detaille او نور شامل دی.

په 3D پروګرام کی Modelling او نور مضوعات شامل دی.

په لومړیو وختونو کی د نقشی 2D کارول کیده خو د وخت په تیریدو او د ټکنالوجی په پرمختګ سره 3D مروج شو.



ترتیــب کوونـکی: ســـــلیمان (نـوری)
Phone No⇒ 0783005642

ketabton.com - The Digital Library

**نوټ:** دا (+) علامی ښیی چی په سکرین باندی کلیک وکړی او دا (↵) علامه د انټر ده. او د(،) علامه د کامی ده چی نوموړی علامی ډیر کارول کیږی.

که څه هم د اټوکیډ مکمل زده کړه په یوه چپټر کی نا ممکنه ده ، خو د دی چپټر په ویلو سره به مو ډیری مشکلات انشاالله چی حل شی.

## موخی (Objectives) :

1- د اټوکیډ په اړه معلومات

2- د رسم او د کاری ساحی پیژندل

3- د افزار پټی پیژندنه

4- د هدایت یا د کمانډ پنجری

5- د Snap او Grip پیژندنه

6- نقشو رسمول

1- د اټوکیډ په پنجره (Window) کی لاندی شیان شامل دی :

2- کاردینات (Coordinate)

3- کاردینات ښودونکی (Coordinate display)

4- د هدایت پټی (Command box)

5- د وضعیت پټی (Status bar)

6- افقی ښودونکی (Horizontal scroll bar)

7- عمودی ښودونکی (Vertical scroll bar)

8- کارسر (Crosser)

9- کاری ساحه (Drawing area)


ketabton.com - The Digital Library

10- افزارو پټی


Pull down menu -11

Standard bar -12

**اساسی مینو (Pull down menu)** : نومړی مینو ا توکید یوه اساسی جز ده چې د کاری ساحی پورته برخه کې قرار لري.





د اتوکید د صفحی لاندی برخه کې د هدایت پنجره (Command line box) وجود لري. او په اسانی سره کولی شو چې د خپل خوښی اپشن نوم پکی ولیکو ترڅو پیدا یی کړی. پدی شرط چې د اپشن نوم پوره ولیکل شی.




## نښه کوونکی او اشاره کوونکی (Crosser and Pointer)

کرسرد اتوکید په داخل کی د دوه متقاطع خطونو په شکل او د اتوکید نقشی ځخه بهر د یو غشی په څیر ښکاری.

لکه:





Phone No⇒ 0783005642
ترتیـــب کوونـکی: ســـــلیمان (نـوری)

ketabton.com - The Digital Library

.: کله چې د اتوکيډ پروګرام کې کار پيل کوو تر ټولو د مخه بايد کاري ساحه او د نقشې واحدات برابر کړو.

**د نقشې واحدات (Drawing units) :** د نقشې دوه نړيوال سيستمونه وجود لري چې يو ته امريکايي ملی ستندرد (A N S I) يا

(American National Standard Institute) چې د فارمټ اندازې يې په فټ او انچ ښودل کيږي. بل ته يې نړيوال ستندرد (I S O) يا (International Standard Organization) چې اندازې يې په ملی متر اخيستل کيږي.

زموږ هيواد کې د (I S O) سيستم مروج ده.


او د واحداتو د برابرولو لپاره په لاندې توګه عمل کوو :

اساسی مينو طريقه - مينوبار څخه format انتخابو او unite کليک کړی.

په کماند پنجره کې unite وليکی او انتر کړی.

شارټ کټ طريقه – un انتر کړی.

او بيا دغه بکسه به پرانستل شی :




او همدارنګه کولی شو چې اندازې په ملی متر ، سانتی متر او متر او يا کوم بل واحد ورکړو.



Phone No⇒ 0783005642

ترتيـــب کوونـکی: ســـــليمان (نـوری)


ketabton.com - The Digital Library

**کاری ساحه (Drawing) :** د اتوکیډ کاری ساحه دModal space په نوم هم یادیږی، یو مستطلیی شکل لری چی په هغی کی یوه نوی نقشه جوړیدلی شی او هم په بله یوه نقشه کی بدلون یا ایډیټ راوستلی شو.

Standard drawing sheet Sizes-Engineering:

| Millimeters |
|---|
| A4= 210*297 |
| A3= 297*420 |
| A2= 420*594 |
| A1= 594*841 |
| A0= 841*1189 |

د یوی کاری ساحی د ټاکلو لپاره په لاندی توګه عمل کوو :




LIM↵0,0↵210,297↵

همدازنګه کولی شو چی کاری ساحی رنګ ته تغیر ورکړو

op↵display tab⟶color⟶white (select color)apply close




Phone No⇒ 0783005642 ترتیـــب کوونـکی: ســـــلیمان (نـوری)

ketabton.com - The Digital Library

## سنپ او ګرېډ (Snap & Grid) :

د نقطو یا خطونو شبکې دی چې د نقشې ساحه بنیې. او د f7 بټن په کیکاږلو سره څرګندیږی. او کاری فضا کې د کار کولو سرعت ته چټکتیا ورکوی.

او د نقطو فاصله یې (X=10) او (Y=10) ده.





د دوه بعدی نقشو د کوردیناتو دوه سیستمونه موجود دی:


1 » کارتیزان کواردیناتو سیستم   2 » قطبی کواردیناتو سیست

## کارتیزان کواردیناتو سیستم (Cartesian coordinate system)

د کوردیناتو قایمه الزاویه سیستم ته د کارتیزان سیستم وایی ، چې دری واړه محورونه سره عمود وی او مبده یې (0.0.0) نقطه ده.

لکه په لاندی شکلونو کې :







Phone No⇒ 0783005642
ترتیــب کوونـکی: ســـلیمان (نـوری)

د Z قیمت په دوه بعده سیستم کی قیمت صفر ده ، او په دری بعده کی لوړوالی ښیی.

## قطبی کواردیناتو سیستم (Polar Coordinate system)

په دی سیستم کی د یوی نقطی موقعیت د زاویی او فاصلی په واسطه ښودل کیږی. یعنی په قطبی سیستم کی د کوردیناتو قیمتونو فاصله او زاویه ورکول کیږی.

لکه:




## په اتوکیډ کی د کوردیناتو سیستمونه

هغه نقطه یا ښنه چی د هغی څخه اندازه اخیستل کیږی د اساس نقطه یا Bench Mark ورته وایی. په اتوکیډ کی دوه د کورنیاتو سیستمونه موجود دی چی یو ته مطلقه (Absolute Coordinate system) او بل ته نسبتی (Relative Coordinate System) وایی.

د کورنیاتو مطلقه سیستم د محاسباتو لپاره د کوردیناتو مبدا یعنی صفر ده ، چی همدا نقطه د اساس نقطه ده.

د کوردیناتو په نسبتی سیستم کی د محاسباتو لپاره وروستی نقطه د اساس په توگه کارول کیږی.



ترتیـــب کوونـکی: ســـــلیمان (نـوری) Phone No⇒ 0783005642

ketabton.com - The Digital Library

که وغواړو د یوی نقطی دقیق قیمت (X.Y) پیداکړو نو دمطلقه کوردینات استعمالیږی. که چیری د یوی نقطی راتلونکی موقعیت د مخکینی نقطی په نسبت مطلوب وی نسبتی کوردینات استعمالیږی.

نوموړی کوردینات د هدایت د پنجری د پاسه یا (Dynamic Input) کی د Tooltip د پاسه څرګند کیږی.

## ډینامیک داخله (Dynamic Input)


ډینامیک داخله په اتوکیډ کی یوه داسی مینو ده چی د کرسر د عملیی بشودنه کوی دری برخی لری :

1- اشاره کوونکی (Input pointer)

2- اندازوی داخله (Dimension Input)

3- دینامیکی خبر (Dynamic Prompt)

اشاره کوونکی داخله د کرسر موقعیت ښیی ، اندازوی داخله ټیک مارک کولو سره د بلی اندازی د ښودلو لپاره فعالیږی او ډینامیکی خبر وروسته له ټیک مارک کیدو په فعالیت پیل کوی او د کار عملیه ښیی.




داینامیک داخله د اتوکیډ یو ډیر مهمه مینو ده که چیری نوموړی اپشن غیر فعاله وی نو موږ به له ډیرو ستونزو مخ شو او که فعاله وی نو ډیره مرسته له موږ سره کوی.



ترتیـــب کوونـکی: ســــلیمان (نـوری) Phone No⇒ 0783005642

ketabton.com - The Digital Library

## د اتوکیډ ځینی شارټ کټونه

# Auto CAD 2D Shortcut key

| S.No | Command Name | Shortcut key | S.No | Command Name | Shortcut key |
|---|---|---|---|---|---|
| 1 | line | L - enter | 2 | Construction line | XL - enter |
| 3 | Polyline | PL - enter | 4 | Polygon | POL - enter |
| 5 | Rectangle | REC - enter | 6 | Arc | A - enter |
| 7 | Circle | C - enter | 8 | SP line | SPL - Treble enter |
| 9 | Ellipse | EL - enter | 10 | Ellipse arc | El - enter & A-enter |
| 11 | Hatch | H - enter | 12 | Gradient or color | GD - enter |
| 13 | Region | REG - enter | 14 | Table | TB - enter |
| 15 | Text formatting | T - enter | 16 | Ray line | RAY - enter |
| 17 | zoom | Z -enter | 18 | Erase | E - enter |
| 19 | Copy | CO - enter | 20 | Mirror | MI - enter |
| 21 | Offset | O - enter | 22 | Array | AR - enter |
| 23 | Move | M - enter | 24 | Rotate | RO - enter |
| 25 | Trim | TR - double enter | 26 | Extend | EX - double enter |
| 27 | Break at point | BR - enter | 28 | Unit setting | UNI - enter |
| 29 | Dimension style manger | D - enter | 30 | Stretch | S - enter |
| 31 | Scale | SC - enter | 32 | Break | B - enter |
| 33 | Join | J - enter | 34 | Chamfer | CHA- enter D - enter |
| 35 | Distance | DI - enter | 36 | Fillet | F - enter R - enter |
| 37 | Explode | E - enter | 38 | Boundary | BO - enter |
| 39 | View | V - enter | 40 | Match properties | MA - enter |
| 41 | Multi line | MT - enter add to text | 42 | Zoom all | Z - enter A - enter |
| 43 | Dived | DIV - enter | 44 | Color control | COL - enter |
| 45 | Pan realtime | P - enter | 46 | Undo | U - enter |
| 47 | Drafting setting | DS - enter | 48 | Point | PO - enter |
| 49 | Text style | ST - enter | 50 | Area | AA - enter |
| 51 | Calculator | Ctrl+8 | 52 | Boundary area | LI - enter |
| 53 | Lengthen survey | LEN - enter | 54 | Dimension liner | DAL - enter |
| 55 | Object snap tracking | F11 | 56 | Ortho | F8 |
| 57 | Xref manger | XR - enter | 58 | Coordinate | ID - enter |
| 59 | Copy drawing in other file | Shift+ctrl+C 0,0 | 60 | Mview | MV - enter |
| 61 | Option | OP - enter | 62 | Paste | Ctrl+V 0,0 |



Phone No⇒ 0783005642

ترتیــب کوونـکی: ســـــلیمان (نـوری)

ketabton.com - The Digital Library

**نقطه (Point) :** نقطه په نقشه کی په زیات ځایونو کی کارول کیږی . او رسمولو ته یی زیات ضرورت پیښیږی. یعنی د نقطی په واسطه موږ کولی شو چی یو خط په څو مساوی برخو باندی وویشو. څرنګه چی نقطی د خط پر مخ نه ښکاری ځکه چی یو خط له له لایتناهی نقطو څخه جوړ شوی ده ، د خط پر مخ د نقطو د ښکاره کولو لپاره د نقطی شکل (Dimension style) ته تغیر ورکوو.ترڅو د د ویشل شوی خط نقطی معلومی شی.

او د نقطی شکل ته د بدلون لپاره  په لاندی توګه عمل کوو:

1 – د Draw menu څخه په Point style کلیک کړی.

2 – په کمانډ بکس کی point style ولیکی او انټر کړی.

3 – د شارټ کټ د لاری po ولیکی او انټر کړی.      po لږ

لکه لاندی خط چی په څلور مساوی برخو ویشل شوی ده :



**خط (Line) :** یو مستقیم خط د دوو نقطو له رسمولو څخه لاسته راځی. خط هغه یوازینی کمانډ ده چی په اتوکیډ کی ترټولو زیات د استفادی وړ ده.

او یو مستقیم خط په لاندی طریقو رسمولی شو:

1 – د Draw مینو څخه په افزارو پټی کی په line کلیک وکړی.

2 – د هدایت پنجره یا کمانډ بکس کی line ولیکی او انټر کړی.

3 – شارټ کټ یی L ده.




Phone No⇒ 0783005642

ترتیـــب کوونـکی: ســـــلیمان (نـوری)


او همدارنگه کولی شو چی یو خط د دوه معلومو نقطو مبدا او انجام ځخه رسم کړو.

لکه : L↵10,20↵15,25↵




ځرنګه چی یوه نقشه له مختلفو خطونو لکه نری اساسی خط ، ډبل اساسی خط ، محوری او داسی نورو خطونو ځخه جوړه شوی ده .نو ↵LW کړی او د خپل خوښی خط او پنډوالی انتخاب کړی. لاندی مینو به پر انستل شی.

لکه :




ځنګه کولی شو چی یو منکسر خط رسم کړو؟

یو منکسر خط په لاندی ډول رسمولی شو:


نوټ⇐ په ځینو کمپیوټرونو کی د @ علامه د 2 shift په واسطه او په ځینو کی د shift ګ په واسطه راتللی شی.



Phone No⇒ 0783005642
ترتیب کوونکی: سلیمان (نوری)


ketabton.com - The Digital Library

L↲shit@ 20 shift , 45↲shift @20 shift , -45↲shift @ 20 shift , 45↲




**دایره (Circle):** دایره په اتوکېډ کی په ډیرو ځایونو کی کارول کیږی. او کولی شو چی له دوه نقطو ، دری نقطو ، مرکز اوقطر او شعاع په واسطه او د مماسونو په واسطه رسم کړو


شارکټ یی  +C↲  ده.




C↲R↲(specify radios)
C↲d↲(specify diameter)
C↲2p+
C↲3p+

او هم تاسی کولی شی چی مرکز د معلومی نقطی ځخه تعین کړی د  P(x.y)

لکه :




C↲10,5↲(specify radios)↲



Phone No⇒ 0783005642
ترتیـــب کوونـکی: ســـــلیمان (نـوری)

ketabton.com - The Digital Library


**مستطیل (Rectangle):** د مستطیل کمانډ د یو څلور ضلعی د رسمولو لپاره کارول کیږی.
او رسم شوی څلور ضلعی د وصل شوی په شکل ښکاری یعنی ټولی ضلعی یی یوځای دی.
د مستطیل کمانډ په ډیرو طریقو راوستلی شو .

1 – د draw مینو څخه د څلور ضلعی کمانډ انتخاب کړئ.
2 - اساسی مینو څخه د مستطیل (Rectangle) غوره کړئ.
3 – د هدایت پنجره یا (Command box) کی (Rectangle) ولیکی او انټر کړئ.
4 – شارټ کټ طریقه یی د کیبورډ په واسطه rec ولیکی او انټر کړئ.

**.: د څلور ضلعی رسمول چی ضلعی یی معلومی وی:**

که وغواړو چی یوه څلور ضلعی رسم کړو چی اوږدوالی یی 10 واحده او عرض یی 5 واحده وی په لاندی ډول عمل کوو:

rec↲+ d↲ (specify length)10↲ (specify width)5↲




**.: د څلور ضلعی رسمول چی د شروع نقطی کوردینات یی معلوم وی:**

که وغواړو چی یو مستطیل رسم کړو چی د شروع نقطه (start point) یی (10,20) وی په لاندی ډول عمل کوو:




rec↲10,5↲+

**.:**




ترتیـــب کوونـکی: ســـــلیمان (نـوری)
Phone No⇒ 0783005642

ketabton.com - The Digital Library

**د مستطیل رسمول د یو زاویې لاندې:** غواړو چې یو مستطیل رسم کړو د 45 درجې زاویې لاندې.

لکه لاندې شکل کې:





Rec↵+ r↵45↵

له دې وروسته چې هر مستطیل رسموی هغه د 45 درجې زاویې لاندې اوسی ، خو کله چې غواړو زاویه بیرته پخوانی حالت ته وګرځو نو د 45 پر ځای صفر لیکو. وروسته له دې به هر مستطیل د صفر درجې زاویې لاندې رسمیږی.

**.: د څلور ضلعی رسمول د معلوم مساحت او یوی ضلعی له مخی:**

د دې په واسطه موږ داسی مستطیل رسموو چې مساحت یې معلوم وی او یوه ضلع (طول یا عرض) یې ورکړل شوی وی. او نامعلومه ضلع خپله پیداکوی.

لکه : داسی مستطیل رسم کړی چې مساحت یې 100 او طول یې 40 وی.




A=100
length=40

Rec↵+A (specify area) 100↵ (specify length or width) 40↵


**.: د څلور ضلعی رسمول د قطر او معلوم زاویې له مخی:**

غواړو چې یوه څلور ضلعی رسم کړو چې قطر یې 40 او زاویه یې 30 درجې وی.



Phone No⇒ 0783005642
ترتیـــب کوونـکی: ســــلیمان (نـوری)

ketabton.com - The Digital Library





لکه :

Rec↲+ shift @ 40 shift, 30↲

همدارنګه کولی شو چی مستطیل ته د شروع کوردينات ورکړو .

لکه:




Rec↲10,20↲shift@ 40 shift,30

**.: څو ضلعی (Polygon):** د محیطی او محاطی دایرو د رسمولو لپاره کارول کیږی.

د دی په واسطه هم موږ کولی شو چی یوه دایره په څو مساوی برخو باندی وویشو.

او د څو ضلعی ټولی اضلاعوی یی سره مساوی دی.

یوه څو ضلعی په لاندی طریقو سره رسمولی شو.

1– د افزارو پټی څخه د polygon کماند انتخاب کړئ.

2 – په کماند بکس کی polygon ولیکی او انتر کړئ.



Phone No⇒ 0783005642 ترتیــب کوونـکی: ســـــلیمان (نـوری)

ketabton.com - The Digital Library

3– شارکټ طربقه یی ↲pol ده.


کله چی څو ضلعی رسموو نو موږ ته دوه اپشن ورکوی:

1 – Inscribed circle یعنی غواړی چی څو ضلعی د دایری په داخل کی رسم کړی.

2 – circumscribed circle یعنی غواړی چی څو ضلعی د دایری په شاوخوا رسم کړی.

نو هغه ستاسی خوښه ده چی هر یو انتخابوی.

اوس غواړو چی یو شپږ ضلعی رسم کړو په لاندی ډول عمل کوو:



pol↲6↲+(inscribed in circle or circumscribed)↲


یا هم د شروع کوردینات هم ورکولی شو

لکه P(10,20)

POL↲10,20……….

**د څو ضلعی رسمول د معلومی ضلعی په واسطه :** د دی په واسطه موږ کولی شو چی یوه څو ضلعی رسم کړو او ټولی ضلعی یی سره مساوی وی.

لکه لاندی شپږ ضلعی چی ټولی ضلعی یی 20 واحده دی:




pol↲(number of side)7↲E↲+(click on screen)20↲



Phone No⇒ 0783005642
ترتیـــب کوونـکی: ســـــلیمان (نـوری)

ketabton.com - The Digital Library

**ځو خطیز (Poly line) :** له ځو خطیز څخه د نقشی په رسمولو کی ډیر کار اخیستل کیږی. او د دی کمانډ په واسطه رسم شوی خط جلا جلا نه ښکاری ، بلکی د وصل شوی خط په شکل ښکاری. او د یو ټوټی په پاکولو سره ټول خط پاکیږی.

د poly line کمانډ فعالول په لاندی طریقو سره اجرا کیږی:


1- د اصلی مینو د لاری : د draw مینو کی poly line انتخاب کړی.

2- افزار پټی د لاری د draw په پټی کلیک وکړی.

3- شارټ کټ له لاری : PLډ کړی او د نقشی په مخ خطونه رسم کړی.

3- د هدایت په پنجره(command box) کی (poly line) ولیکی او د ننوتو تنی کیکاږی

غواړو یو ځو خطیز رسم کړو:



∴ د line او poly line دواړه مستقیم خطونه رسموی مګر توپیر یی په دی کی دی چی د لین په واسطه رسم شوی خط د کار جریان کی پنډوالی نه اخلی ، خو د ځو خطیز په واسطه رسم شوی خط جریان د کار کی پنډوالی اخلی . بل توپیر یی داده چی د لین په واسطه رسم شوی خط په سلیکشن (په نښه کولو) کی جلا جلا په نښه کیږی مګر پولی لین کی ټول خط یو ځای په نښه کیږی.

کله چی plډ کړو او په سکرین کلیک کړو نو کمانډ بکس کی ځینی اپشنونه راځی لکه

قوس arc ، پنډوالی width ، اوږدوالی length او نیم خط پنډوال half wide line .

که وغواړو چی پولی لین ته پنډوالی ورکړو نو ډPlډ+w .





Phone No⇒ 0783005642

ترتیـــب کوونـکی: ســـــلیمان (نـوری)

ketabton.com - The Digital Library

**بیضوی (Ellipse)** : دا کماند په نقشه کی د بیضوی ډوله شکلونو رسمولو لپاره کارول کیږی. یوه بیضوی د دوه محوررونو لوی او کوچنی درلودونکی ده.

د بیضوی د رسمولو عملیه د لاندی طریقو په واسطه اجراکیږی.

1- مینو طریقه : د Draw د اساسی مینو څخه د بیضوی کماند غوره کړی.


2- افزار پټی طریقه : د draw د افزار پټی څخه د بیضوی کماند غوره کړی.

3- په کماند بکس کی ellipse ولیکی او انتر کړی.

4- شارټ کټ طریقه : لېEL کړی .


کله چی د بیضوی کماند انتخاب کړی په نقشه کی د بیضوی مرکز په نښه کولی شی کوردینات ورکړی او یا د نقشی پر مخ مطلوبه ساحه کی کلیک وکړی. او بیا د موس په واسطه د کوچنی محور لوری وټاکی او اندازه ورکړی او بیا په دویم قیمت سره چی نیم محور اندازه ورکول کیږی خو مکمل قیمت اخلی رسمیږی.

اوس غواړو چی یوه بیضوی رسم کړو چی لوی محور یی 20 او کوچنی محور یی 10 واحده وسی :




**قوس (Arc) :** د قوس کماند څخه په ډیر ځایونو کی کار اخیستل کیږی. قوس هم د نورو کماندونو په شان د draw د اساسی مینو کی د افزار پټی څخه او هم شارټ کټ د لاری یعنی لېA له لاری رسمولی شو.

لکه :





Phone No⇒ 0783005642

ترتیـــب کوونـکی: ســـــلیمان (نـوری)

ketabton.com - The Digital Library

**ټکس (Text) :** ټکس هم په زیاته کچه کارول کیږی. کله مو چې د ټکس کمانډ انتخاب کړی ، په اسانی سره کولی شی چې په مربوطه ځای باندی کلیک کړی او لیکل وکړی.

د ټکس کمانډ په لاندی طریقو فعالولی شو :

1- د افزار پټي څخه د draw مینو کی د ټکس کمانډ غوره کړی!

2- د هدایت پنجره یا کمانډ بکس کی text ولیکی او انټر کړی!


2- شارټ کټ یی پوره لهtext لیکل کیږی.

لکه لاندی په لاندی ډول :




**د موادو ډکول (Hatching) :** په اتوکیډ 2015 کی د نقشی ډکوني (Hatch) موضوع ډیره مهمه ده ، چې د یو ساختمان د ترکیبی موادو ښودنه کوی . کله چې د یوی پرزی یا یو ساختمان د داخلی موادو د ښودنی لپاره ضرورت شی د اتوکیډ سافټویر په مرسته د (Hatch) د کمانډ په واسطه د ډکوني عملیه ترسره کوو.

او همدارنګه نوموړی عملیه د اتوکیډ په ټیټو Version کی متفاوت ده. کله چې د hatch کمانډ فعال او د اړونده موادوپه مقطع کی اړوند مواد چې پخوا په کمپیوټر کی ځای پر ځای شوی دی او په داخل د مقطع کی یی pick internal باندی کلیک کوو ، هغه مقطع چې ترلی boundary نه وی د hatch عملیه نه ترسره کیږی.




د ډکونی عملیه د لاندی طریقو په واسطه ترسره کیږی :

1- د draw اساسی مینو څخه د hatch کمانډ غوره کړی.

2- د هدایت پنجره کی hatch ولیکی او انټر کړی!

3- شارټ کټ طریقه یی لهH کړی!




Phone No⇒ 0783005642

ترتیـــب کوونـکی: ســـــلیمان (نـوری)

ketabton.com - The Digital Library


د hatching د عملیی لپاره د hatch کمانډ فعالوو د نمونه pattern په پراپرټي کی په اړونده نمونه باندی کلیک وکړی او بیا د نقشی په داخل کی په مطلوبه ساحه کی کلیک او انټر کړی.

لکه فرض مثال یو د خښتو دیوال ده او غواړو چی نوموړی دیوال ډک کړو یعنی رنګ ورکړو ورته :



د موادو د مقطعو د نقشی نوری نمونی لکه اوسپنه ، لرګی ، کانکریټ ، ښیښه او نور مواد انتخاب کړی او ok کړی.

لکه :







Phone No⇒ 0783005642

ترتیـــب کوونـکی: ســـــلیمان (نـوری)

ketabton.com - The Digital Library


که چیرته د رنګ ورکولو لپاره ضرورت شی د سdraw په اساسی مینو کی په لاندی ډول عمل کوو

draw→gradient




د draw & gradient د فعاله کیدو څخه وروسته چی هر رنګ وغواړی په اړوند ساحه کی ورکولی شی.

لکه :




**ماتول (Break) :** د دی کمانډ په واسطه موږ کولی شو چی یو قطعه خط په دوه نقطو کی مات کړو یعنی قطع یی کړو.

شارټ کټ یی لړBr کړی. او یا د هدایت پنجره کی break ولیکی او انټر کړی.

کله مو چی نومړی کماند فعال کړ د خط په یوه نقطه کلیک وکړی او بیا د خط په بله مطلوبه نقطه کلیک وکړی همدا د منځ انټروال قطع کیږی.

ketabton.com - The Digital Library

لکه لاندی شکل کی :




brↁ+1+2


**په نقشه کی بدلون (Modify) :** په دوه بعدی نقشه کی د بدلون او سمون لپاره منعکس کول ، پاکول ، کاپی کول ، فاصلی انتخاب ، غزول ، گردول ، له منځه وړل ، قطع کول او داسی نو هدایتونه د دسمون د گریپ د نقطو استعمال او په نظر کی نیول.

نقشه جوړل یو گران کار دی او بیا په هغی کی بدلون (edit) راوستل هم یوه ضروری خبره ده. د اتوکیډ سافتویر دا وړتیا لری چی دا پروسی گرندی کړی دا پروسه د اتوکیډ 2015 د modify د افزارو د پټی په واسطه اجراکیږی.

**پاکول (Erase)** : کله چی و غواړو یو خط یا ابجکټ د نقشی یا کاری ساحی څخه پاک کړو ، په نوموړی خط باندی کلیک کوو او د ډیلیټ تڼی کیکاږو ، په نښه شوی ابجکټ به له منځه ولاړ شی.

.: کله مو چی په خط یا کوم بل شی کلیک وکړ د Eↁ په واسطه به نوموړی خط پاک شی.

لکه لاندی شکل کی:







Phone No⇒ 0783005642

ترتیـــب کوونـکی: ســــلیمان (نـوری)

ketabton.com - The Digital Library

.: کله مو چې کوم ابجکټ باندې کلیک وکړ خط روښانه کیږی او ګریپونه ښکاری بیا کلیک (Right click) وکړ یوه مینو پرانیستل کیږی بیا په erase باندې کلیک کړئ.

لکه :





**انتخابول (Selection) :** سلیکشن په واسطه موږ کولی شو چې په اسانی سره یو ابجکټ په نښه کړو او ایډیټ پکی وکړو یعنی رنګ بدلون ، پنډوالی ، پاکول ، انتقال ، کاپی او نور...

په اتوکیډ کی موږ دری ډوله سلیکشن لرو:


**1 – کلیک سلیکشن** : د دی په واسطه یوازی یو ابجکټ انتخابولی شو.

لکه



**2- د ښی څخه چپ طرف ته سلیکشن :** د دی په واسطه هغه شیان انتخابیدلی شی کوم چې د سلیکشن د پردی سره تماس ولری او که تماس ونلری نه انتخابیږی.

لکه :







Phone No⇒ 0783005642

ترتیـــب کوونـکی: ســـــلیمان (نـوری)

**3- د چپ ښخه ښې طرف ته سلیکشن :** یوازې هغه شیان انتخابولی شو کوم چې د سلیکشن د پردی یه منځ کې شامل وی که په منځ کې شامل نه وی نه انتخابیږی.

لکه لاندی شکل کې :




**پولی لین یا څو خطیز ته تغیر ورکول (Polyline edit) :** که چیرې یوه ابجکټ د پولی لین څخه جوړ شوی وی او وغواړو په هغې کې بدلون راولو د Polyline edit څخه کار اخلو او نوموړی کمانډ په لاندی ډول فعاله کولی شو:

د modify اساسی مینو څخه د Polyline edit انتخاب کړی. او شارټ کټ یی لېpe ده.

د نوموړی کمانډ د فعاله کیدو څخه وروسته یو اپشن خلاصیږی کله چې pe انټر کړی او پولی لین باندی کلیک کړی یو بل اپشن خلاصیږی په دی اپشن کی د نظر وړ غوښتنه کیږی کولی شی اړوند اپشن انتخاب کړئ پولی لین ستاسی په غوښتنه بدلون مومی.

که موږ یو پولی لین رسم کړی وی او غواړو چې تغیر پکی راولو نو لېpe کوو او په پولی لین باندی کلیک کوو.

لکه :







Phone No⇒ 0783005642
ترتیـــب کوونـکی: ســــلیمان (نـوری)

مثال : د پولی لین په واسطه یو منکسر خط رسم شوی او تاسی یی منکسر خط په منحنی باندی بدل کړی؟

حل : لومړی ↲pe کوو بیا په منکسر خط باندی

کلیک کو ، یوه مینو پرانیستل کیږی په مینو کی spline باندی کلیک کوو چی په نتیجه کی به

نوموړی خط منحنی ته تبدیل شی.





**هنداره (Mirror) :** هنداره یا منعکس کول چی اصلی مفهوم یی متناظر کول دی یعنی شی یا نقشه په تکرار ډول او په خاصه توګه په متناظره ډول رسمولو ته ضرورت وی نو له دی کمانډ څخه ګټه اخیستل کیږی. چی تکرار رسمولو ته ضرورت ته بیا ضرورت پیدانشی.

د هدایت پنجره کی mirror ولیکی او انتر کړئ.

شارټ کټ یی ↲mi ده.

د لاندی مستقیم خط په یوه څوکه کی ګلوله قرار لری تاسی یی د mirror د کمانډ په واسطه د مستقیم خط دواړو خواو ته راولی؟

لکه :




mi↲+ on object↲+(midpoint)1↲



Phone No⇒ 0783005642

ترتیـــب کوونـکی: ســــلیمان (نـوری)

ketabton.com - The Digital Library


**کاپی او انتقال (copy & move) :** کاپی کول د نقشو په رسمولو کی عمده رول لری ، خصوصا په هغه نقشو کی چی د یو شی ځو مساوی کاپی ګانی به ځو ځایونو کی ضرورت وی. او په لاندی طریقو فعالیدی شی.

اساسی مینو کی د modify څخه copy غوره کړی.

هدایت پنجره کی copy ولیکی او انټرکړی.

شارټ کټ یی co↲ کړی.

لکه لاندی شکل کی :




co↲+(circle)↲+1


او انتقال یا move دا هم عینی کاپی په شان عمل کوی خو فرق یی دا ده چی په کاپی کی اصل شی پاتی کیده خو په move اصل شی نه پاتی کیږی.

**دوران ورکول (Rotate) :** یو ابجکټ یا یو شی ته دوران ورکول د یو نقطی په شاوخوا د rotate کمانډ په واسطه کولی شو. او کولی شو چی د یوی معلومی زاویی لاندی هم دوران ورکړو. منفی او مثبت دواړه زاویی ورکولی شو نظر اړتیا ته.

شارټ کټ یی ro↲ ده.

یا کمانډ بکس کی rotate ولیکی او انټر کړئ.

لکه لاندی یو مستطیل ته 45 درجی دوران ورکوو:




ro↲(select object)↲(specify basepoint)+A 45↲

basepoint یا د اساس نقطه هغه نقطه ده چی له کوم څخه موږ دوران ورکوو یو ابجکټ ته. پورتنی شکل ته موږ د A د نقطی څخه دوران ورکړی د 45 درجی په اندازه.



Phone No⇒ 0783005642 ترتیب کوونکی: سلیمان (نوری)

ketabton.com - The Digital Library

**مقیاس (Scale) :** د یو شی د خطی او طبعی اندازی نسبت ته مقیاس وایی. نقشه چی د وړو او غټو شیانو څخه جوړه ده او د اړتیا په وخت کی واړه شیان غټ رسم او غټ شیان واړه رسم شی چی دا کار د مقیاس په واسطه اجرا کیږی.


نوموړی کمانډ په لاندی طریقو فعال کولی شو :


په اساسی مینو کی د modify مینو څخه د scale کمانډ غوره کړی.

کمانډ بکس کی scale ولیکی او د ننوتو تنی کیکاږی.

شارټ کټ یی ↲sc ده.

ثلکه لاندی مستطیل د خپل اصلی حالت څخه دوه چنده غټ رسم کړی.




sc↲+(select object)↲+(specifybasepoint)2↲

او که وغواړی چی کوچنی مقیاس ورکړی نو د 0.5 په اندازه یی وړوکی کوی.



Phone No⇒ 0783005642

ترتیب کوونکی: ســـــلیمان (نوری)

ketabton.com - The Digital Library


**موازی انتقال (Offset) :** د اندول یا موازی انتقال عملیه د نقشو په هغه برخو کی استعمالیږی چی د یو شی موازی انتقال ته په یوه معلومی فاصله سره ضرورت وی. یعنی په عینی شکل موازی بیا رسمول دی.

افسټ کمانډ په لاندی طریقو فعالیدی شی :

د اساسی مینو څخه د modify مینو کی offset غوره کړی.

شارټ کټ یی ↲o ده.


فرض مثال یو مستقیم خط ده او غواړو چی هغه ته د 20 واحده په اندازه موازی انتقال ورکړو.




O↲↲(select object)20↲

او که زیات موازات پکار وی د multiple څخه کار اخلو او دخطونو ترمنځ فاصله یی 2 واحده وی.

لکه :




o↲2↲(select object)m↲+++++++

که چیری وغواړو یو ابجکټ ته موازی انتقال ورکړو چی اصلی ابجکټ له منځه لاړ شی او منتقله ابجکټ پاتی شو دErase  اپشن څخه کار اخلو.



Phone No⇒ 0783005642

ترتیـــب کوونـکی:  ســـــلیمان (نـوری)

ketabton.com - The Digital Library

**پری کول (Trim) :** دا کمانډ په نقشه کی د اضافی شیانو پری کولو لپاره کارول کیږی.


د خط یا نقشی ځینی ځنډي او یا هغه برخی چی نه پکاریږی ددی هدایت په واسطه له غوځیږی. نوموړی کمانډ په لاندی ډول فعالیږی:


د اساسی مینو په modify کی وجود لری.

شارټ کټ یی لږلtr ده.

فرض مثال د لاندی مستطیل د داخل څخه ځینی خطونه بهر وتلی غواړو چی نوموړی خطونه پری کړو یعنی trim یی کړو.

لکه :






لږلtr(select object)

∴ کولی شی چی په انفرادی ډول یو یو خط پاک کړی یا ټول په نښه کړی او پاک یی کړی.

دا ستاسی خپله خوخه ده.

**غزول (Extend)** : ځینی داسی وختونه اړتیا پیداکیږی چی یو مستقیم خط بل مستقیم یا ابجکټ ته وغځو یا امتداد ورکړو د Extend د کمانډ څخه استفاده کوو. په لاندی ډول یی فعاله کولی شو:


د کمانډ پنجره کی extend ولیکی او ډبل انټر کړئ.


شارټ کټ یی لږلex ده.

ketabton.com - The Digital Library

غواړو چی د AB مستقیم خط CD خط ته وغځو یعنی امتداد ورکړو.


لکه





exلږلږ+(click object)

که چیرته مستقیم خطونه ډیر وی او وغواړو چی د AB مستقیم خط CD خط ته وغځو لکه لاندی شکل کی:




exلږلږ+++(click AB)



Phone No⇒ 0783005642

ترتیـــب کوونـکی: ســـــلیمان (نـوری)


ketabton.com - The Digital Library

**ګردول (Fillet) :** په نقشه کی کله کله د دیزاین لپاره ګردولو ته اړتیا لیدل کیږی او یا قوسونو رسمولو ته ضرورت کیږی چی دا عملیه د ګردولو عملیی په واسطه ترسره کیدای شی.

کله مو چی نوموړی کمانډ فعاله کړ یعنی F انتر کړ نو د ګردولو شعاع ته اړتیا پیداکیږی دشعاع اندازه ورکړی او بیا یو خط او بیا بل خط باندی کلیک وکړی د ورکړل شوی شعاع مطابق د ګردولو عملیه ترسره کیږی.

شارټ کټ یی ↲F ده.

مثال په ډول د لاندی مستطیل یوه څنډه د 10 واحده شعاع په اندازه ګرده کړئ:




F↲R↲(CLICK 1 AND CLICK2)

د پورتنی عملیی په واسطه کولی شی دوه خطونه د صفر په شعاع سره وصل کړی. او د ګردولو عملیی څخه د Trim استفاده هم کولی شی.

**د نقشی ټوټه کول (Explode) :** ځینی داسی وصل شوی نقشی شته چی د Joint یا وصل شوی خط یا پولی لین په شکل ښکاری. د design center څخه standard شیان لکه دروازی ، کړکی ، د تشناب لوازم او راواخیستل شی او وغواړو په کی بدلون راولو نو ددی کار لپاره په مطلوبه ابجکټ باندی کلیک وکړی چی ټرلی ابجکټ چوی او هر خط جلا جلا ښکاری

نوموړی کمانډ په لاندی ډول فعاله کولی شو :

د افزار پټي د لاری د explode ایکن باندی کلیک کړئ.

کمان پنجره کی explode ولیکی او انتر کړئ.


شارټ کټ یی ↲X ده.




Phone No⇒ 0783005642
ترتیـــب کوونـکی: ســــلیمان (نـوری)

ketabton.com - The Digital Library

لکه لاندی مستطیل د وصل شکل لری تاسی یی د توټی شکل ته تبدیل کړی.





x↵+(select object to explode)↵

**بلاک (Block) :** په نقشه کی داسی شیان موجود وی چی اندازی یی یو شان او تکرار وی ددی لپاره چی تکراری رسمونه ونه کړو د نقشی هغه برخه چی تکراری وی بلاک (وصل) یی کړو او دضرورت په وخت کی استعمال کړو.

که چیری د یو دروازه د ورکړل شوی سایزونو په اندازه رسم کړو او بلاک یی کړو او په یو نوم یی وساتو د ضرورت په وخت کی د ↵i یا (insert) په واسطه نوموړی ساتل شوی بلاک (دروازه) بیرته راوستلی شو او په یو ځای کی یی ځای په ځای کولی شو


بلاک په لاندی ډول فعاله کولی شو :

کمانډ بکس block ولیکی او د ننوتو تنی کیکاږئ.

شارټ کټ یی ↵b ده.

فرض مثال موږ یو کړکی رسم کړی او غواړو چی نوموړی کړکی بلاک کی وساتو:

لکه :







Phone No⇒ 0783005642

ترتیـــب کوونـکی: ســـــلیمان (نـوری)

ketabton.com - The Digital Library






کله مو چی کړکی رسم کړی او
غواړی چی بلاک کی یی واچوی نو
لومړی لہB کړی او وروسته به دغه
مینو پرانیستل شی او پدی کی به
select object کلیک یعنی
نوموړی کړکی به ورته په نښه کړی
او انټر کړی اوپه اخیر کی به د ok
بټن کیلک کړی.

***و من الله التوفیق***



Phone No⇒ 0783005642
ترتیـــب کوونـکی: ســـــلیمان (نـوری)

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*